شتمني
SHTAMANI
اوونیزه
تأسیس: ۱۳۹۴ل ل
زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


**په عمل کي دزړه اخلاص**

**رسول الله ﷺ فرمايي:** لله تبارک و تعالی ستاسي صورتونو او مالونو ته نه ګوري؛ بلکي الله تعالی ستاسي زړونو او عملونو ته ګوري. (رواه مسلم).

**اخلاص در عمل**

**رسول الله ﷺ میفرماید:** الله سبحانه و تعالی به صورت ها و اموال شما نه؛ بلکه به اعمال و قلب های شما میبیند.(رواه مسلم)

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)


د شوال المکرم ۱۵ -۱٤٤٦ل س | د وري ٢٤ -۱٤٠۴ل ل | د اپريل ١٣-٢٠٢٥ز | پنځم کال | ١٣٧ ګڼه | ٤ مخيزه | ١


# د افغانستان او ايران ترمنځ د دوه اړخيزو اقتصادي همکاريو پر لا پياوړتيا خبري وسوې



د ماليې وزارت د پاليسۍ معين انجنير سلطان محمد زبير د ايران هيواد د بهرنيو چارو وزارت د اقتصادي همغږۍ دفتر له عمومي رئيس محمد رضا نظري او مل پلاوي سره د دغه وزارت د پاليسۍ په معينيت کي وکتل.

په دغه کتنه کي د دواړو هيوادونو ترمنځ پر ګمرکي مسايلو، د دوه اړخيزو اقتصادي همکاريو پر لا پياوړتيا او د دواړو هيوادونو تر منځ د اقتصادي همکاريو د ګډ کمېسيون د وروستيو هوکړو د پلي کولو پر موضوعاتو خبري وسوې.

په دغه کتنه کي دواړي خواوي د ګډو اقتصادي همکاريو د لا پراختيا په برخه کي د يو لړ مهمو اقداماتو د ترسره کولو په موخه وروستۍ هوکړي ته ورسېدل، چي ورسره به ګډي اقتصادي اړيکي لا پراختيا ومومي.

## د هيواد په ګمرکونو کي پر يو شمېر وارداتي توکو د لېږد فورم اخيستل لغوه سو

**د حمل۲۰مه ۱۴۰۴ هـ.ل**

د ماليې وزارت له لوري سوداګرو ته د اسانتيا او په اړوندو چارو کي د لا ښه والي او چټکتيا رامنځته کولو په موخه پر لاندي (۳۴) وارداتي توکو د لېږد فورم اخيستل لغوه اعلان سو.

| شمېره | د توکي نوم | شمېره | د توکي نوم |
|---|---|---|---|
| ۱ | د نقليه وسايطو پرزې | ۱۸ | کاشي |
| ۲ | د غنمو اوړه | ۱۹ | حيواني غوړي |
| ۳ | لمريزي تختې (شمسي) | ۲۰ | سراميک |
| ۴ | ټاير | ۲۱ | قير (کريړ) |
| ۵ | خوراکي غوړي | ۲۲ | د خياطۍ او ګلدوزۍ ماشينونه |
| ٦ | سيګرېټ | ۲۳ | پياز |
| ۷ | تختې او لرګي | ۲۴ | کاجو او ناريال |
| ۸ | ښيښه او له ښيښې څخه جوړ سوي توکي | ۲۵ | د کاليو وينځلو ماشين |
| ۹ | سپارو | ۲٦ | دست شويي او کموډ |
| ۱۰ | المونيمي خالي قطۍ | ۲۷ | ايرکنډېشن |
| ۱۱ | زغر | ۲۸ | مرچ (تور، سره) |
| ۱۲ | کُنجاړه | ۲۹ | هيل |
| ۱۳ | غنم | ۳۰ | اوربشي |
| ۱۴ | کبان | ۳۱ | ورېدن (ارزن) |
| ۱۵ | فريزر، يخچال | ۳۲ | د شاتو مچۍ |
| ۱٦ | د غير الکولي نوشابو له پاره خام او معطر مواد | ۳۳ | د اور لرګي |
| ۱۷ | د کارټن جوړولو له پاره کاغذ | ۳۴ | قرآن کريم او ديني کتابونه |

## د ګمرکونو او عوايدو معين د يو شمېر ولايتونو له ګمرکونو او مستوفيتونو څخه ليدنه وکړه

د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوايدو معين الحاج مفتي عبدالمتين سعيد د خپلو ولايتي سفرونو په ترڅ کي دا ځل کندهار او هلمند ولايتونو ته سفر وکړ او هلته يې د يادو ولايتونو له مستوفيتونو او د سپين بولدک ګمرک له چارو څخه ليدنه وکړه.

نوموړي په دې ليدنه کي د يادو برخو مسئولينو ته په پوره صداقت او ايمانداري سره د اړوندو چارو د ترسره کولو، پر وخت سره د مراجعينو ستونزو ته د رسېدو او له هغوی سره د ښه چلند، په چارو کي د اړيني همغږۍ رامنځته کولو او يو شمېر نورو اړوندو موضوعاتو په تړاو لازمي سپارښتني وکړې.

ښاغلي سعيد د ولايتي مسئولينو ستونزي هم واورېدې او ورته د اصولي رسېدني ډاډ يې ورکړ.

د يادولو ده، چي د ګمرکونو او عوايدو معين بېلابېلو ولايتونو ته سفرونه کوي؛ ترڅو د ياد معينيت د اړوندو ادارو د چارو څخه د ليدني تر څنګ د هيوادوالو ستونزي هم له نږدې واوري او پر ټاکلي وخت رسېدنه ورته وکړي.



## سرمقاله

### نقش برنامه‌های حمایتی امارت برای کسب و کارها

در دنیای امروز، کسب و کار به عنوان موتورهای محرک اقتصادی شناخته می‌شوند و نقش حیاتی در ایجاد اشتغال و افزایش تولید ناخالص داخلی دارد. حمایت از کسب و کار در افغانستان، به ویژه در شرایط کنونی از اهمیت ویژه‌ای برخوردار است. برنامه های حمایتی از آن جهت اهمیت دارد که به توسعه اقتصادی کمک نموده و امارت اسلامی برای تحقق این اهداف می تواند برنامه های مختلف از جمله تأمین مالی و قرضه های با سود کم، راه اندازی ورکشاپ های آموزشی برای کار آفرینان به منظور ارتقای مهارت ها و دانش مدیریتی آن، تشویق صادارات، ارائه مشوق های مالی و تسهیلات برای کسب و کارهایی که به صادرات محصولات می پردازند؛ حمایت از نوآوری، ایجاد بستر های مناسب برای دسترسی کسب و کارها به بازار های داخلی و خارجی را روی دست گیرد.

با توجه به موقعیت جغرافیایی و اهمیت اقتصادی افغانستان و با در نظرداشت تحولات اخیر اقتصادی و سیاسی در منطقه رهبری امارت اسلامی طی فرمانی خواهان معیاری سازی تجارت، افزایش صادرات، ایجاد مناسبات دوامدار و پایدار با کشورهای همسایه و منطقه و به همین ترتیب حمایت و رشد سکتور خصوصی و تولیدات داخلی گردیده است.

در این فرمان آمده است که با توجه به مصالح تجاری و اقتصادی کشور، سهولت‌های لازم را برای تجارت در بنادر، نقاط عبوری و شاهراه‌ها فراهم نمایند. مسئولین و کارمندان وزارت‌ها و ادارات امارتی در مرکز و ولایات مکلف اند که در مطابقت با اسناد تقنینی نافذۀ کشور، با فعالان سکتور خصوصی برخورد نیک نمایند و در اجراآت مربوطه از تعلل و تاخیر جلوگیری کنند.

علاوه بر آن، امارت اسلامی برای حمایت از کسب و کارها اقدامات متعددی انجام داده است که می توان از معافیت جرایم مالیاتی، کاهش مالیات تا (۰,۳ ٪)، راه اندازی نمایشگاه های ملی و بین المللی برای معرفی و ایجاد بازار برای تولیدات و محصولات افغانی و ایجاد بستر مناسب برای شریک سازی فرصت ها و جذب سرمایه گذاری و کاهش بروکراسی و تسهیل مقررات اشاره کرد.

برنامه‌های حمایتی امارت برای کسب و کارها نه تنها به بهبود وضعیت اقتصادی کشور کمک می‌کند، بلکه تأثیرات مثبت گسترده‌ای بر زندگی روزمره مردم دارد. با اجرای این برنامه‌ها و تقویت همکاری میان امارت، بخش خصوصی و نهادهای آموزشی، می‌توان به سمت ایجاد اقتصادی پایدار و متوازن حرکت کرد. این اقدام نه‌تنها به رشد و توسعه کسب و کارها کمک می‌کند، بلکه آینده‌ای روشن‌تر برای نسل‌های آینده به ارمغان می‌آورد.

**با احترام**

**اداره**



پروسږ کال د څه باندي (۵۲) زره ټنه قاچاقي توکو د لېږد رالېږد مخه نيول سوې ده

م ۲



د ماليې وزارت او د افغانستان بانک ترمنځ د تادياتي سيستمونو د نښلولو هوکړه ليک لاسليک سو

م ۲





د ماليې وزارت مقام د شکايتونو اورېدو خپلواک آمريت (۱۵) شکايتونو ته رسېدنه کړې

م ۲



د ولايتي مستوفيتونو ۴۰ تنو کارکوونکو ته جوړ سوی روزنيز پروګرام پای ته ورسېد

م ۲




سيستم مالياتی افغانستان: چالش ها، فرصت ها و راه حل ها

م ۳



اُزبکستان او پاکستان د «ټرانس – افغان» دهليز جوړولو د پرمختګ په اړه بحث وکړ

م ٤

SHTAMANI
اوونیزه

## پروسږ کال د څه باندي (۵۲) زره ټنه قاچاقي توکو د لېږد رالېږد مخه نیول سوې ده

د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست له لوري د هیواد په ګمرکونو کې د اسانتیاوو پر رامنځته کولو سربېره، له فساد سره جدي مبارزه سوې او د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د ګرځنده څارني ټیمونو له لوري د قاچاقي توکو د لېږد را لېږد په کلکه مخنیوی سوی دئ. پرهمدې بنسټ، د ماليې وزارت د ګرځنده څارني څیرکو کارکوونکو پروسږ (۱۴۰۳هـ.ل) کال کې د هیواد د بېلابېلو ګمرکونو په اړوندو سیمو کې (۵۲) زره (۲۹۲) ټنه قاچاقي توکي تعقیب، کشف او نیولي دي. په نیول سویو قاچاقي توکو کې طبي، زراعتي او یوناني درمل، خوراکي او غیر خوراکي او داسي نور توکي شامل ول، چې په قاچاقي ډول پر پټو لارو له ګاونډیو هیوادونو څخه افغانستان ته راوړل کېدل، نیول سوي توکي او په پېښه کې تورن کسان هم مهاله اړوندو پلټونکو ارګانونو ته ورپېژندل سوي دي. همدارنګه یادو کارکوونکو د هیواد په بېلابېلو سیمو کې (۵۹،۳) ټنه صادراتي قاچاقي توکي لکه زړه اوسپنه، د انسان د سر وېښتان او داسي نور هم نیولي دي. د یادوني وړ ده، چې د ګمرکونو د ګرځنده څارني امنیتي او پلټونکي ټیمونه د پروسږکال په څېر خپلي دندي او د هیواد د اقتصادي وضعیت پیاوړي کولو ته سږ کال هم ژمن دي او دوی به په خپل ټول توان د بې قانونیو مخه نیسي او د توکو د قاچاق په مخنیوي که به پوره هڅه کوي.



## د ماليې وزارت او د افغانستان بانک ترمنځ د تادیاتي سیستمونو د نښلولو هوکړه لیک لاسلیک سو

د ماليې وزارت او د افغانستان بانک ترمنځ په شفاف ډول د ملي عوایدو راټولولو او د امارتي لګښتونو او معاشونو پروسې د برېښنايي کولو بهیر د لا چټکتیا په موخه د تادیاتي سیستمونو د نښلولو هوکړه لیک لاسلیک سو. د دې هوکړې له مخې به، د ماليې وزارت اړوند (AFMIS او ASYCUDA، SIGTAS) سیستمونه، د افغانستان بانک بین‌البانکي تادیاتي سیستمونو (ACSS) او د افغانستان د تادیاتو سیستم (APS) سره ونښلول سي. په همدې تړاو د افغانستان بانک کې رسنیزه غونډه جوړه سوې وه، چې پکښې د ماليې وزارت مالي معین حاجي عبدالقدیر احمد، د افغانستان بانک لومړي مرستیال صدیق الله خالد، د ماليې وزارت د عوایدو لوی رئیس مولوي حافظ شاه حسین حسیني او د یادو ادارو یو شمېر مسؤلینو او رسنیو ګډون کړی وو. د ماليې وزارت د عوایدو لوي رئیس وویل، چې له دې هوکړه لیک څخه وړاندي وزارتونو او امارتي ادارو ځیني عواید په فزیکي ډول راټولول، چې په فزیکي ډول د عوایدو راټولوني یو شمېر ستونزي رامنځته کړي وې؛ خو له دې وروسته به د یادي هوکړې پر بنسټ، په ټولیزه توګه ملي عواید په بشپړې روڼتیا سره په برېښنايي ډول پر ټاکلي وخت سره را ټولېږي او د ماليې وزارت واحد حساب ته به انتقالېږي. ښاغلي حسیني زیاته کړه، چې نړدې راتلونکي کې به د افغانستان د مالي مدیریت معلوماتي سیستم (افمس) چې په عصري بڼه جوړ سوی، د افغانستان بانک د تادیاتو له سیستم سره ونښلول سي؛ خو د معاشاتو او لګښتونو تادیه کول هم په برېښنايي بڼه د چک او له چاپ پرته ترسره سي. د افغانستان بانک لومړي مرستیال وویل، چې د یادو سیستمونو له نښلولو سره به امارتي عواید په شفاف ډول راټولېږي، امارتي لګښتونه به د الکترونیکي تادیاتو له لاري تنظیم سي، د امارتي کارکوونکو معاشونه به پر وخت او په اسانه توګه تادیه سي، د سوداګرو له پاره به د ګمرکاتو او بانکي سیستمونو اړیني اسانتیاوي لا زیاتي سي. د یادولو ده، چې د الکترونیکي تادیاتو سیستم پلي کول به د اجراآتو چټکتیا او د مالي خدماتو په پراختیا کې مرسته وکړي. او دا چاره به په ټوله کې د مالي روڼتیا، حساب ورکوني او د معیاري مالي سیستمونو د پیاوړتیا سبب وګرځي.



## د ولایتي مستوفیتونو ۴۰ تنو کارکوونکو ته جوړ سوی روزنیز پروګرام پای ته ورسېد

د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ له تدریسي پلان سره سم، د ولایتي مستوفیتونو (۴۰) تنو کارکوونکو ته «د موټرسیکلونو د ثبت او ګمرکي محصول روزنیز پرګرام» تر سرلیک لاندي (۱۸) ورځنی روزنیز پروګرام د یو لړ مراسمو په ترڅ کې د تصدیق پاڼو په وېشلو سره پای ته ورسېد. په دغه پروګرام کې د ماليې وزارت د عوایدو لوی ریاست، د قانون پلي کولو رئیس مولوي محمد نعیم منصور، د دې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس مولوي عبدالهادي سیف الخالد، د ماليې وزرات د ولایتي عوایدو د انسجام سرپرست رئیس مولوي دوست ثاقب، د ماليې وزارت د کارکوونکو چارو ریاست د استخدام آمر مفتي نیاز محمد منصور، د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ آمر بلال احمد احدي او د یاد آمریت ښوونکو ګډون کړی وو. د دعودت او ارشاد رئیس وویل، چې د مؤمن نیت باید سپېڅلی وي او خپل مسئولیتونه په پوره صداقت او ایمانداري ترسره کړي او الله ج فرمايي: (څوک چې د الله ج د رضا اراده لري؛ نو ښه اعمال دي ترسره کړي).



د عوایدو لوی ریاست د قانون پلي کولو رئیس ګډونوالو ته وویل، چې د روزنیزو پروګرامونو د مطالبو له ترلاسه کولو وروسته تاسي ته دوه مسئولیتونه متوجه دي؛ یو دنیوي او بل هم اخروي؛ نو خپلي چاري په صداقت او ریښتینولۍ تر سره کړئ، څو د اسلامي نظام د لا پیاوړتیا سبب وګرځئ. د یادوني وړ ده، چې په دغه روزنیز پروګرام کې د مستوفیتونو کارکوونکو ته د مسلکي ښوونکو له لوري د موټرسیکلونو د ثبت او ګمرکي محصول پروسه، د ګمرکي اظهارلیکونو تشریح، ګمرکي قوانین، بیې ټاکني او اسیکوډا سیستم په برخو کې نظري روزنه ورکړل سوه او همدارنګه د عملي کار له پاره د کابل ګمرک ریاست د چارو د لیدني له پاره ور معرفي سول.

## د ماليې وزارت مقام د شکایتونو اورېدو خپلواک آمریت (۱۵) شکایتونو ته رسېدنه کړې

د ماليې وزارت د شکایتونو د اورېدو خپلواک آمریت د دغه وزارت اړوند ټولو شکایتونو؛ لکه: فساد، کم کاري، کار ځنډوني او د یو شمېر مسئولینو ناسم چلند ته د رسېدني مسئولیت په غاړه لري او ترلاسه سوي شکایتونه په مستقیم ډول د وزارت له مقام سره شریکوي. دغه آمریت د پروسږ (۱۴۰۳) کال د کب میاشتي له پیل څخه د دغي میاشتي تر پایه پوري په ټوله کې (۲۰) شکایتونه ترلاسه او اورېدلي دي، چې له دې ډلي څخه (۱۵) شکایتونو ته رسېدنه سوې او (۵) نور شکایتونه د کافي معلوماتو او شکایت کوونکو له لوري د اثباتیه اسنادو د نشتون له امله د دغي اداري لخوا بې بنسته ګڼل سوي دي. له دې ډلي (۱) یو شکایت د برېښنالیک له لاري، (۱۰) وټس اپ له لاري او (۲) د ټیلیفوني اړیکو له لاري او (۷) شکایتونه په حضوري بڼه له دې اداري سره شریک سوي دي، چې یاد شکایتونه د املاکو، تدارکاتو، مالي او منفکې په برخو کې ول، چې د دغه آمریت له لوري پر وخت رسېدنه ور ته سوې ده. د یادوني وړ ده، چې ټول هیوادوال کولای سي، چې د ماليې وزارت د بېلابېلو څانګو په ځانګړې توګه د عوایدي سرچینو او د ګومارني په برخه کې د اصلاحاتو په تړاو خپل شکایتونه، وړاندیزونه او نظریات د برېښنالیک، واټس اپ، ټلیفوني اړیکي، په حضوري بڼه او د شکایتونو د صندوق له لاري له دغي اداري سره شریک کړي، چې د شکایتونو د اورېدو آمریت به له طبقه بندۍ وروسته هر ثبت سوي شکایت ته په شفاف او ټاکلي وخت رسېدنه وکړي.

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲۴۱۹۰
واټس اپ شمېره: ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦
برېښنالیک: Officialcomplaints@mof.gov.af




## برنامه آموزش های مسلکی برای مفتشین ریاست عمومی تفتیش داخلی وزارت مالیه اختتام یافت



برنامه آموزشی یک ماهه تحت عنوان "آموزش های مسلکی برای مفتشین" که از جانب ریاست عمومی تفتیش داخلی وزارت مالیه به همکاری ریاست امور کارکنان این وزارت دایر گردیده بود، اختتام یافت. در نشستی که به همین مناسبت در خیبرهال وزارت مالیه دایر گردیده بود، الحاج ملا عبدالهادی ابرار، رئیس عمومی تفتیش داخلی، مولوی عبدالهادی سیف الخالد، رئیس دعوت و ارشاد، قاضی شیرزمان بلوچ، رئیس تفتیش دارایی‌ها و ارتقای ظرفیت واحد های بودجوی ریاست عمومی تفتیش داخلی، مولوی فضل الرحمن عابد، رئیس تفتیش سیستم ها و کشف تقلب، محمد نادر همایون، امر آموزش و ارتقای ظرفیت ریاست امور کارکنان، مولوی ضیا الرحمن یعقوبی، آمر ارتقای ظرفیت واحد های بودجوی و شماری از مفتشین و کارمندان ریاست تفتیش داخلی اشتراک داشتند. رئیس تفتیش دارایی‌ها در سخنان خود در این نشست گفت، خوشحالیم که این پروگرام یک ماهه به پایان رسید. از این برنامه ها می توان تجارب زیاد کسب کرد و مهارت خویش را ارتقاء داد. هرقدر تجربه حاصل شده باشد به همان اندازه به مسیر موفقیت و رسیدن به هدف نزدیک تر می شویم. خدا کند از برنامه و تجارب استادان استفاده اعظمی نموده باشید تا در ساحه عمل آنرا تطبیق کنید. آمر آموزش و ارتقای ظرفیت ریاست امور کارکنان در مورد مکلفیت ها و مسئولیت های این آمریت معلومات داده وگفت، این آمریت برنامه های آموزشی متعدد برای انکشاف مهارت های مسلکی کارمندان مربوطه وزارت مالیه بصورت آنلاین و حضوری دایر نموده است. برنامه که امروز اختتام یافت نیز برای ارتقای ظرفیت شما و رفع نواقص و اشتباهات دایر گردیده بود. خداکند که از این برنامه استفاده اعظمی نموده با نیت مخلصانه برای کسب رضای خدا و خدمت به این نظام آنرا عملی کنید. رئیس دعوت و ارشاد گفت، نیت شما می تواند بر روی کیفیت کار و دیگران تأثیر داشته باشد. پس از امرآ خود اطاعت کنید و با نیت مخلصانه به مردم و این نظام خدمت کنید تا در دنیا و آخرت رستگار شوید. نشست با دعای خیر اختتام یافته و برای فارغان برنامه متذکره تصدینامه ها اهداء گردید.

شتمني SHTAMANI اوونیزه

# سیستم مالیاتی افغانستان: چالش ها، فرصت ها و راه حل ها

عبدالبصیر عمر شاه خیل
محقق دکتورای اقتصاد و تجارت بین الملل



مالیات یکی از منابع اساسی درآمد امارت اسلامی افغانستان است. در افغانستان، اهمیت جمع آوری مالیات به دلیل نیاز فزاینده به خود اتکایی/خود بسندگی مالی کشور افزایش یافته است. اگرچه قوانین مالیات مختلفی در این زمینه وضع شده است، اما نسبت مالیات به تولید ناخالص داخلی در مقایسه با کشورهای همسایه پایین است. سیستم مالیاتی افغانستان یک میکانیزم کلیدی برای ایجاد عواید امارتی و حمایت از توسعه اقتصادی کشور است. با این حال تلاش‌ها برای ارتقای نظام، چالش‌های متعدد سیاسی، اقتصادی و اجتماعی نباید مانع کارایی این سیستم شود. هدف این نوشته ارائه معلومات کوتاه در باره ساختار مالیاتی فعلی افغانستان، تحلیل های اولیه و ارائه راه حل های عملی برای بهبود آن است. در برخی کشور های جهان اجرای ضعیف قوانین در ادارات مالیاتی، فساد اداری در سیستم عملی مالیاتی و محدودیت‌های ظرفیتی نهاد های مالیاتی از موانع اصلی فرا راه این سیستم هستند. با این حال، در افغانستان یکپارچگی تکنالوژیک، گسترش آموزش مالیاتی به کارکنان مالیاتی و مردم، حمایت از سکتور خصوصی فرصت های ارزشمندی برای اصلاحات ایجاد می کند.

## ساختار سیستم مالیاتی افغانستان:

سیستم مالیاتی افغانستان تحت اداره وزارت مالیه و ریاست عواید افغانستان فعالیت می‌کند و بر اساس قوانین مختلفی از جمله قانون مالیات بر عایدات مصوب سال ۱۳۸۷، قانون اداره امور مالیات مصوب سال ۱۳۹٤، قانون مالیه بر ارزش افزوده مصوب سال ۱۳۹۵ و اسناد تقنینی پس از آن تنظیم شده است.

## اجزای مالیات افغانستان:

اجزای اصلی مالیات در افغانستان عبارت‌اند از:

- مالیات بر عایدات افراد و شرکت‌ها.
- مالیات بر عواید تجارتی.
- مالیه بر ارزش افزوده.
- محصولات گمرکی.
- مالیات‌های شاروالی و املاک.

## مزایای مالیات بر عایدات:

در اینجا مهم‌ترین مزایای مالیات بر عایدات به‌طور خلاصه ارائه میشود:

- مالیات بر عایدات یکی از منابع ثابت و پایدار تأمین بودجه امارت اسلامی افغانستان است که برای تمویل پروژه‌های زیربنایی، خدمات عامه و انکشاف کشور به‌کار می‌رود.
- با جمع‌آوری مؤثر مالیات، دولت می‌تواند استقلال مالی بیشتری کسب کرده و کمتر به کمک‌های بین‌المللی وابسته باشد.
- چون این مالیات بر اساس اندازه درآمد اشخاص یا شرکت‌ها وضع می‌شود، افرادی که درآمد بالاتری دارند سهم بیشتری پرداخت می‌کنند که این باعث برقراری عدالت اجتماعی می‌شود.
- برای پرداخت مالیات، افراد و شرکت‌ها باید حساب‌های خود را واضح و دقیق نگه دارند که این باعث شفافیت مالی در جامعه می‌گردد.
- اخذ مالیات از عایدات می‌تواند باعث کاهش مصرف های غیرضروری و در نتیجه کنترل تورم در بازار شود.
- امارت اسلامی افغانستان می‌تواند از طریق تغییر نرخ مالیات بر عایدات، اقتصاد را تنظیم و مدیریت کند (مثلاً در شرایط رکود یا رونق اقتصادی.
- افراد و شرکت‌هایی که در بخش رسمی فعالیت دارند، مالیات پرداخت می‌کنند و از مزایای قانونی و حمایتی نیز بهرمند می‌گردند.

## پیشنهادات

اکنون بصورت کوتاه پیشنهاداتی ارائه میشوند که با تطبیق آن میتوان یک نظام مالیاتی منظم و عادلانه داشت از جمله تامین بودجه ملی، آزادی مالی و عدم وابستگی به کمک های بیرونی، تامین عدالت اجتماعی- اقتصادی، شفافیت مالی، کنترول تورم، تنظیم وضع اقتصادی و حمایت از سکتور خصوصی در کشور:

- تقویت ادارات مالیاتی.
- پیاده سازی سیستم های دیجیتال شفاف برای ثبت و پرداخت مالیات.
- ارتقای ظرفیت کادری اکادمی گمرکات و مالیات از طریق استخدام استادان مسلکی با تحصیلات تکمیلی مرتبط از طریق امتحان ملی شفاف.
- برگزاری دوره های آموزشی جامع برای کارکنان مالیاتی و مردم.
- ایجاد اعتماد مردم از طریق شفافیت در استفاده از درآمدهای مالیاتی.
- استفاده از تجارب منطقه ای و بهترین شیوه ها برای اصلاح نظام مالیاتی.

# اعلانات داوطلبی

## د داوطلبی خبرتیا

د مالیې وزارت دامارتي املاکو لوی ریاست غواړي چي د کابل ښار لومړی ناحیې اړوند د ظاهر شاهي مارکیټ (۹) بابه دوکانونه په جلا جلا ډول د یوه کال له پاره د داوطلبی له لاري په کرایه ورکړي.
۱.د ظاهر شاهي مارکیټ اړوند، یو باب (۱٦۲) نمبر دوکان چي (۱۲،٦) متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې (۲۲٦۵۰) افغانی ده.
۲. د ظاهر شاهي مارکیټ اړوند، یو باب (۷٦) نمبر دوکان چي (۵،٦۰۷) متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې (۱۸۳۸۰) افغانی ده.
۳. د ظاهر شاهي مارکیټ اړوند، یو باب (۱۹) نمبر دوکان چي (۷،۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې(۲۴۴۱۷) افغانی ده.
٤.د ظاهر شاهي مارکیټ اړوند، یو باب (۹۴) نمبر دوکان چي (۵،۴۱۵) متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې(۱۸٦٦۷) افغانی ده.
۵. د ظاهر شاهي مارکیټ اړوند، یو باب (۱۴۲) نمبر دوکان چي (٦،٦۷) متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې(۱۵۵۹۲) افغانی ده.
٦. د ظاهر شاهي مارکیټ اړوند، یو باب (۴۹) نمبر دوکان چي (۱۱،٦۵۵) متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې(۱۲۸۵۰) افغانی ده.
۷.د ظاهر شاهي مارکیټ اړوند، یو باب (۱٦۴) نمبر دوکان چي (٦) متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې(۲۲٦۵۰) افغانی ده.
۸. د ظاهر شاهي مارکیټ اړوند، یو باب (۱٦۵) نمبر دوکان چي (٦) متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې(۲۲٦۵۰) افغانی ده.
۹. د ظاهر شاهي مارکیټ اړوند، یو باب (۱۳) نمبر دوکان چي (۵،۷) متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې(۲۰۷۳۷) افغانی ده.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر): ٦۹,۱۷۷۵٦ - ۳٤,۵۱۷۱
هغه حقیقي او حکمي اشخاص چي غواړي پورته ذکر سوي دوکانونه په کرایه ونیسي کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د (۱۴۰۴/ حمل/ ۱۸ نېټې څخه وروسته د ۱۴۰۴/ ثور/۰۷) مي نېټې پوري د امارتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپاڼه تر لاسه کړي.
آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانی، (۵) پوړ، د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.
د داوطلبی نېټه: د (۱۴۰۴/ ثور/ ۰۸) نېټه، د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

## اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه (۵) جایداد امارتی واقع نواحیی مختلف شهر کابل را به شکل آفر سر بسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد.
۱.یک باب دوکان نمبر(۱۰۷) به مساحت(۵,۸۵) مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۲۵۳۰۰) افغانی، مدت(۱) سال.
۲. یک باب دوکان نمبر(۱۱۸) به مساحت(۵,۷) مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۷٦۱۵۰) افغانی، مدت(۱) سال.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر): ٦۹,۱۷۷۵٦ ۳٤,۵۱۷۱
۳. دو باب اطاق مخروبه به مساحت (٤٤,۸۲) مترمربع واقع ختم کوچه، سمت شرق تعمیر۱٤ منزله سینما پامیر متصل به شفاخانه میوند مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۷۵۰۰) افغانی، مدت (۲) سال.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۲۱۹ ۳٤,۵۱۳٤۲
٤.موازی (٦۰٤) مترمربع پارکینگ واقع سمت شرق اداره تذکره الکترونیکی مکروریان کهنه مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل را به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۳۱۷۰۰) افغانی، مدت (۳) سال.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۲۰۱۵۳٤۳۹ - ۳٤,۵۲۲۲۱۱۰۲
۵.بتعداد(۳۲) باب دوکان نمبر (A۵٦ الی A۸۸) به مساحت(۵۰٤) مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه پنجم شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۲۸۰۰۰) افغانی، مدت (۱) سال.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۱۷٤٦ ۳٤,۵۱۵۲۷۲
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایدادهای فوق باشند میتوانند در خواست های شان را از تاریخ ( ۱۴۰۴/۰۱/۲۰ الی ۱۴۰۴/۰۲/۰۲) به ریاست عمومی املاک امارتي تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس: سینما پامیر تعمیر (۱۴) منزله، منزل ۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرارداد های مرکزی.
تاریخ مجلس داوطلبی:۱٤۰٤/۰۲/۰۳ به ساعت (۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

## د داوطلبی خبرتیا

د مالیې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست غواړي چي د کابل ښار لومړی او (۱۱) مي ناحیې اړوند (۸) بابه دوکانونه په جلا جلا ډول د یوه کال له پاره د اعلان له لاري داوطلبی ته وړاندي کړي دي.
۱. د ظاهر شاهي مارکیټ اړوند، یو باب (۱۵۰) نمبر دوکان چي (٦.۳۸) متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې(۲۲٦۵۰) افغانی ده.
۲. د ظاهر شاهي مارکیټ اړوند، یو باب (٦۷) نمبر دوکان چي (۱۲.۷۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې(۲۸۲۳۴) افغانی ده.
۳. د ظاهر شاهي مارکیټ اړوند، یو باب (۹۹) نمبر دوکان چي (۵.۴۱۵) متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې(۱۴٦٦۷) افغانی ده.
٤.د ظاهر شاهي مارکیټ اړوند، یو باب (۱۱۵) نمبر دوکان چي (۵.۵۱) متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې(۱۹۲۵۰) افغانی ده.
۵. د ظاهر شاهي مارکیټ اړوند، یو باب (۱۷۱) نمبر دوکان چي (۲.۸) متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې(۳۵۲۵۰) افغانی ده.
٦. د ظاهر شاهي مارکیټ اړوند، یو باب (۲۰) نمبر دوکان چي (۱۴.۰۴) متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې(۲۱۸٦۷) افغانی ده.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر): ٦۹,۱۷۷۵٦ - ۳٤,۵۱۷۱
۷.د مدینه مارکیټ اړوند، یو باب (۸۹) نمبر دوکان چي (۱۱.۵۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې(۲۲۷۵۰) افغانی ده.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۷۲٤ -۳٤,۵۱۷٤۱
۸. د کابل ښار (۱۱) مي ناحیې اړوند په لیسه مریم کي د (۱۰) مي مغازې، یو باب (۴) نمبر دوکان چي (۱۸.۵) متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې(۳۰۰۰۰) افغانی ده.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۳۸۹۸ - ۳٤,۵۷۸۹۲
هغه حقیقي او حکمي اشخاص چي غواړي پورته ذکر سوي دوکانونه په کرایه ونیسي کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د (۱۴۰۴/ حمل/ ۱۸ نېټې څخه وروسته د ۱۴۰۴/ ثور/۰۷) مي نېټې پوري د امارتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپاڼه تر لاسه کړي.
آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانی، (۵) پوړ، د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.
د داوطلبی نېټه: د (۱۴۰۴/ ثور/ ۰۸) نېټه، د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز څښتن: د ماليې وزارت
مسئول مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
اېکسپانه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د شوال المکرم ۱۵ -١٤٤٦ل س | د وري ٢٤ -١٤٠٤ل ل | د اپریل ١٣-٢٠٢٥ز | پنځم کال | ١٣٧ ګڼه | ٤ مخیزه






## Deputy Minister of Policy of MoF Discusses Bilateral Economic Cooperation with Iranian Delegation

- **Eng. SM Zubair and M. Reza Nazari emphasized for strengthening bilateral economic mutual support.**
- **Customs issues and implementation of the recent agreements were discussed.**



The Deputy Minister of Policy of MoF, Eng. Sultan Mohammad Zubair met with the General Director of the Economic Coordination Office of the Iranian Ministry of Foreign Affairs, Mohammad Reza Nazari, and his accompanying delegation at the DM for Policy of MoF. In this meeting, they discussed customs issues between the two countries, the further strengthening of bilateral economic cooperation, and the implementation of the recent agreements of the 'Joint Commission for Economic Cooperation' between Afghanistan and Iran. Both sides reached a final agreement to take a number of important measures in the arena of further developing joint economic cooperation, which will further expand joint economic relations.

## Afghan Customs Cancel Obtaining of 'Transfer Form' for 34 Imported Goods

MoF has announced the cancellation of collecting 'transfer form' for the following 34 imported goods in order to facilitate traders, and improve and speed up related matters.

| No | Items | No | Items |
|---|---|---|---|
| 1. | Vehicle parts | 18. | Tile |
| 2. | Wheat flour | 19. | Animal fats/ oil |
| 3. | Solar panels | 20. | Ceramics |
| 4. | Tyre/Tire | 21. | Bitumen |
| 5. | Cooking oil | 22. | Sewing and embroidery machines |
| 6. | Cigarette | 23. | Onion |
| 7. | Boards and lumber/ timber | 24. | Cashews and coconuts |
| 8. | Glass and glass products | 25. | Washing machine/ washer |
| 9. | Supari/ betel nut | 26. | Washing liquid and Toilet commode |
| 10. | Empty aluminum cans | 27. | Air-condition |
| 11. | Flax plant | 28. | Pepper (black, red) |
| 12. | sesame oil meal/ cotton seed oil cake | 29. | Cardamom |
| 13. | Wheat | 30. | Oats |
| 14. | Fish | 31. | Millet |
| 15. | Refrigerator/ Freezer | 32. | Honey bees |
| 16. | Raw and aromatic ingredients for non-alcoholic beverages | 33. | Firewood |
| 17. | paperboard (Paper for making cartons) | 34. | The Holy Quran and religious books |




## اُزبکستان او پاکستان د «ټرانس – افغان» دهلیز جوړولو د پرمختګ په اړه بحث وکړ



د اذربایجان ټرینډ خبري اژانس – Trend راپور لیکي، چې د «ټرانس – افغان» دهلیز په تړاو د اُزبکستان ولسمشر شوکت میرضیاییف او د پاکستان له خوا یوسف رضا ګیلاني تر منځ خبري وسوې. لومړی د اُزبکستان او پاکستان مشرانو د خپلو هیوادونو د داخلي سوداګرۍ، پانګوني او ټرانسپورټ په برخو کې د لومړیتوب لرونکو پروژو د ګړندي کولو پر اهمیت ټینګار وکړ. وروسته د بین الافغاني همکارۍ او بشري تبادلو د پراختیا په تړاو هم مجلس وسو. دا چې افغانستان د منځنۍ او سوېلي اسیا تر منځ عبوري او سټرېټیجیکه/ ستراتیژیکه نقطه ده؛ نو څکه د یادو هیوادونو مشرانو د افغانستان په تړاو بحث وکړ، تر څو اُزبکستان او پاکستان د افغان ټرانزیټي دهلیز له لارې نښلون په اثبات و رسوي. راپور د پروژې د تاریخچې په تړاو لیکي، چې اُزبکستان، افغانستان او پاکستان په (فیبروري/ ٢٠٢١)ز کې د «ترمز - مزار شریف – کابل – پېښور» د اورګاډي د جوړولو له پاره د لارې نقشه لاسلیک کړه. دا نوی ټرانسپورټي دهلیز، چې تر (٢٠) میلیونو ټنو پورې د بار وړلو ظرفیت لري، لومړنی لګښت ئې (٥) میلیارډه ډالره محاسبه سوی دئ. ټرینډ اژانس زیاتوي، چې دا ټرانسپورټي دهلیز دې د اروپا، روسیې، اُزبکستان، پاکستان، هندوستان او د سوېل ختیځې اسیا له هیوادونو سره وصل سي.





### د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لارې شریک کړي.
ټیلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ (+۹۳)
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af



### د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ٢٢١

### ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همېشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ٢٢١



شتمنې اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.